د افغانستان اسلامی جمهوریت
د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت
جمهوری اسلامی افغانستان
وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی
Islamic Republic of Afghanistan
Ministry of Communication and IT
دمقام د دفتر ریاست
د ویاند دفتر |دفترسخنگوی| Office of the Spokesman

# مطبوعاتي خبرپاڼه

نېټه: د ۱۳۹۷ دلړم ۲مه

**موضوع: د الکوزي شرکتونو گروپ د وصل ټېلېکام شرکت په اخیستلو سره د مخابراتو سکټور کې ۳۰۰ مېليونه ډالره پانگونه کوي**

د مالیې وزارت سرپرست او د زیربناو په چارو کې د جمهوري ریاست د ستر سلاکار محترم محمد همایون قیومي په مشرۍ د اقتصادي عالي شورا په غونډه کې په داسې حال کې چې د اقتصادي عالي شورا غړي په ځانگړې توگه د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزیر محترم شهزاد آریوبي هم موجود وو، د وصل ټېلېکام خصوصي مخابراتي شرکت د مالکیت د انتقال او پلور طرحه په پرنسیپ کې منظور شوه.

وصل ټېلېکام مخابراتي شرکت چې د CDMA خدماتو د جواز درلودونکی دی، له رامنځته کېدو سره سم د فني او تخنیکي ستونزو سره لاس او گرېوان وو او وېې نه شو کولی د ورځې د ټکنالوجۍ سره خپل فعالیتونه عیار او د خپلو نږدې ۱۰۰۰۰۰ مشترکینو غوښتنې پوره کړي. له همدې کبله یې ورځ تر بلې مشترکین په کمېدو شو چې اوس دغه شمېر ۱۲۰۰۰ ته را ښکته شوی دی.

د وصل ټېلېکام خصوصي مخابراتي شرکت د خپل فعالیت د کلونو په اوږدو کې سربېره پر دې چې خپل مالیاتي پورونه یې نه دي تصفیه کړي، بلکې د نورو خصوصي شرکتونو او دولتي بنسټونو پورونه هم ورباندې پاتې دي.

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت د هڅو او کوششونو په نتیجه کې او د وصل ټیلېکام خصوصي مخابراتي شرکت ته د افغانستان اسلامي جمهوریت د عالي مقام ۵۴۷ مورخ ۲۳/۳/۱۳۹۷ او ۵۵۴ مورخ ۲۸/۰۳/۱۳۹۷ د فرمان په اساس ۶۰ ورځې وخت ورکول شوی و چې خپلې ستونزې حل او پورونه تصفیه کړي. مگر دغه شرکت نه یوازې خپل پورونه تصفیه نه کړل، بلکې ونه توانېد چې د شرکت ستونزې له منځه یوسي.

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت د وصل ټېلېکام خصوصي مخابراتي شرکت د ستونزو د حل په موخه او د دغه شرکت د پورونو د تصفیې په موخه د الکوزي شرکتونو د گروپ او وصل ټېلېکام شرکت، د دغه شرکت د پلور په اړه هوکړې ته ورسېدل چې د الکوزي شرکتونو گروپ به د ۳۰۰ میلیونه امریکایي ډالرو سره د وصل ټېلېکام مخابراتي شرکت اخلي او ټول مالي ذمت او پورونه به د اصل قیمت څخه دولت او نورو ټولو هغه ادارو ته ورکول کېږي چې یاد شرکت یې پوروړی دی.

ټاکل شوې د الکوزي شرکتونو گروپ د وصل ټېلېکام اوسنۍ CDMA ټېکنالوجي د GSM ټېکنالوجۍ ته واړوي او د عصر د بهترینې ټکنالوجۍ (4G / 3G) په واردولو سره او رقابتي تعرفو په وړاندې کولو سره خپلو مشتریانو او هېوادوالو ته با کیفیته مخابراتي خدمات وړاندې کړي.

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت ډاډه دی چې په دغه پانگونې سره به د کاري فرصتونو د پیدا کېدلو تر څنگ خلکو ته د عصري او با کیفیته خدماتو د وړاندې کولو په برخه کې مثبت بدلون راشي.

د زیاتو معلوماتو لپاره زموږ وېب پاڼې ته مراجعه وکړئ: www.mcit.gov.af